euaa
EUROPEAN UNION
AGENCY FOR ASYLUM

Bundesamt
für Migration
und Flüchtlinge

د المان فدرالي
جمهوریت

# د پناه غوښتنې لپاره د غوښتنلیک ورکولو په اړه تاسو باید پر څه پوه شئ

## د بي سرپرسته ماشومانو لپاره معلومات




سلام، موږ د بېلابېلو هېوادونو ماشومان یو. موږ مخکې له دې چې دلته المان ته راورسیږو تر څو د خوندیتوب غوښتنه وکړو، اوږده لاره مو سفر وکړ. موږ په خپله دلته راغلو، پرته له والدینو.



سلام. زما نوم لیزا ده. زه به تاسو ته هغه څه تشریح کړم چې باید د پناه غوښتنې (چې نړیوال خوندیتوب هم بلل کیږي) په اړه پوه شئ.



# نړیوال خوندیتوب څه شی دی؟





که یو کس خپل هېواد ته بېرته نه شي تللی ځکه چې هلته په خطر کې دی، نو هغه کولای شي نړیوال خوندیتوب ترلاسه کړي او په هغه هېواد کې خوندي پاتې شي چې دا خوندیتوب یې ورته ورکړی ده.

ستاسو استازی به تاسو ته دا لا زیات تشریح کړي چې څوک نړیوال خوندیتوب ترلاسه کولای شي او پروسه یې څه ډول ده.

په اروپا کې، نړیوال خوندیتوب ته پناه غوښتنه، د کډوالۍ حالت یا فرعي خوندیتوب هم ویل کېږي. ښایي تاسې هم د پناه غوښتنې کلیمه اوریدلي وي. کله چې د نړیوال خوندیتوب په اړه خبرې کوم، نو زه به د پناه غوښتنې کلیمه وکاروم ځکه دا ستاسې لپاره اسانه ده چې په یاد یې وساتئ.

## په یاد ولرئ، تاسو اوس خوندي یاست.


په اروپا کې له هر چا سره په مساوي ډول چلند کېږي، پرته له دې چې له کوم ځایه راغلي وي، کوم دین لري، یا د پوستکي کوم رنګ لري.





په اروپا کې هر څوک چې د 18 کلونو
څخه کم عمر ولري ماشوم ګڼل کیږي.

د ماشوم په توګه تاسې ځانګړي حقونه
لرئ. ستاسې مصوونیت او هوساینه ډېره
مهمه ده.



تاسې به له بېلابېلو چارواکو سره وګورئ، لکه د پناه غوښتنې د چارواکو له کارمندانو سره کوم چې دلته ښودل شوي دي. هغوی به له تاسې څخه ستاسې په اړه او اروپا ته د راتګ په اړه پوښتنې وکړي.

په یاد ولرئ چې دا چارواکي دلته د دې لپاره دي تر څو ستاسې ساتنه وکړي او تصمیم ونیسي چې څه شی ستاسې لپاره غوره دي.

تاسې هر وخت کولای شئ هر هغه څه چې په اړه يې فکر کوئ، څه ته اړتیا لرئ او څنګه احساس کوئ، له چارواکو سره يې شریک کړئ.





# استازی څوک دی؟



ځکه چې تاسو دلته پرته له خپلو والدینو راغلي یاست، چارواکي به تاسو ته یو بالغ وګړی وټاکي چې استازی بلل کېږي او له تاسې به ملاتړ کوي.

استازی هغه کس دی چې له هغو ماشومانو سره مرسته کوي چې اروپا ته پرته له خپلو والدینو یا بل مسؤل بالغ څخه راځي.



استازی کېدای شي سړی واوسي یا ښځه. استازیانو ته هم استازي ویل کېدای شي. د ځوانانو د اداري کارکوونکي هم استازیان کېدای شي.

که چېرې تاسو تر اوسه له خپل استازی سره ملاقات نه وي کړی، نو ژر تر ژره به ورسره ووینئ.

ځیني وختونه، چارواکي کېدای شي لومړی یو موقتي استازی وټاکي تر څو له تاسي ملاتړ وکړي، تر هغه چې له خپل دایمي استازی سره ووینئ.




استازی هلته د دې لپاره دی چې تاسو ته هر هغه څه تشریح کړي چې تاسې باید د پاتې کېدو په اړه پرې پوه شئ او له تاسو سره مرسته وکړي چې مهمې پرېکړې وکړئ. د بېلګې په توګه، استازی به له تاسو سره د پناه غوښتنې په غوښتنلیک کې مرسته وکړي، پروسې به تشریح کړي، ستاسو حقونه او مسؤلیتونه به روښانه کړي او له تاسو سره به د چارواکو په غونډو کې ګډون وکړي.

تاسو تل کولای شئ خپل نظر استازی ته ووایئ، له هغه څخه پوښتنې وکړئ او که کوم څه ته اړتیا لرئ نو هغه ته ووایئ. هغوی هلته د دې لپاره دي چې له تاسې سره مرسته وکړي.



که له خپل استازی سره کومه ستونزه لرئ، نو د ځوانانو د اداري یا د پناه غوښتنې د اداري کارکوونکو ته يې ووایاست. دا به ستاسو د پناه غوښتنې پر غوښتنلیک منفي اغېز ونه کړي.





# د پروسیجر پر مهال کومه مرسته ورکول کیږي؟



د پاته کېدو لپاره یو خوندي ځای



کالي



نور هغه شیان چې تاسي ورته اړتیا لرئ



خواړه



تاسي کولای شئ ډاکتر ته ورشئ



تاسي به ښوونځي ته ولاړ شئ



تاسي به په داسي ځای کې ژوند وکړئ چې ستاسو لپاره مناسب وي او د عمر له مخې اړینه مرسته ترلاسه کړئ

# ما د پناه غوښتنه وکړه، اوس به څه پېښ شي؟






**لومړی باید ستاسي غوښتنلیک ثبت او بیا وسپارل شي.**

د خپل غوښتنلیک د ثبت او سپارلو لپاره، ستاسو استازی به د پناه غوښتنې اداري ته یوه فورمه واستوي. وروسته به تاسو ته د ملاقات نېټه درکړل شي چې په هغه ورځ به تاسو له خپل استازی سره یوځای د پناه غوښتنې غوښتنلیک وړاندې، ثبت او وسپارئ. ستاسو غوښتنلیک به په هماغه ورځ ثبت شي.

ستاسو استازی، ستاسو موقتي استازی یا هغه لویان چې ستاسو د استوګنې په ځای کې کار کوي، تاسو ته به د ورځې او وخت په اړه معلومات درکړي، او ستاسو استازی به تاسو له چارواکو سره د لیدنې لپاره ملتیا وکړي.

د همدې پروسیجر پر مهال به ستاسې استازی له تاسې سره وي.



# د نوملیکنې او سپارلو پر مهال لاندې کارونه رامنځته کیږي...



تاسو به چارواکو ته ټول د پېژندنې اسناد وښایئ چې له ځان سره یې لرئ (پاسپورټ، پېژندپانه، او نور).



شونې ده چې تاسو او ستاسو شخصي توکي وپلټل شي. چارواکي کېدای شي ستاسي توکي د لږ وخت لپاره وساتي، خو ټول به بېرته تاسو ته درکړي، پرته له هغو توکو چې خطرناک وي.



ستاسو عکس اخېستل کېږي.



ستاسو د ګوتو نښې به واخیستل شي.



کېدای شي تاسي یوه ډاکتر سره ووینئ.



- یو چارواکی به له تاسي څخه ستاسي او په اروپا کې ستاسي د کورنۍ په اړه پوښتني وکړي
- اضافي معلومات به راټول شي: ستاسو د مذهب یا قومي تړاو، هغو ژبو په اړه چې تاسو یې خبرې کوئ یا پرې پوهېږئ، او د هغو ښوونځیو په اړه چې تاسو پکې زده کړې کړې دي.



یو چارواکی به له تاسو وغواړي چې خپل د اړیکو معلومات ورکړئ (ستاسو پته او د تلیفون شمېره).

له تاسو څخه به د لاندې مواردو په اړه نورې پوښتنې وشي:

- تاسې او ستاسې کورنۍ
- ستاسې هېواد او هغه ځایونه چې پخوا تاسې په کې ژوند کړی
- هغه لاملونه چې تاسو خپل هیواد پرېښود او ولې تاسو بېرته ستنیدل نه غواړئ
- المان ته مو څنګه سفر وکړ







## په یاد ولرئ!

ډېره مهمه ده چې له خپل استازی
سره خبرې وکړئ او د پناه
غوښتنې له چارواکو سره ګډ کار
وکړئ.




هغه څه چې تاسو خپل استازی یا
چارواکو ته وایئ **محرم پاتې
کېږي**. دا معنا لري چې هغه
معلومات چې تاسې یې هغوی ته
ورکوئ، هېڅکله به ستاسې د
هېواد له حکومت سره او نه هم له
هغو خلکو سره چې تاسو ترې
وېرېږئ، شریک شي.



**ایا زه به د پناه غوښتنې پروسې پر مهال په المان کې پاتې شم؟**

له ثبت وروسته، چارواکي به پرېکړه وکړي چې کوم هېواد به ستاسو غوښتنلیک وڅېړي. دا به یا المان وي یا بل اروپايي هېواد. تاسې هېواد نه شئ ټاکلی، خو ستاسو غوره ګڼې به په پام کې ونیول شي. چارواکي به دا موضوع تاسو ته تشریح کړي.





مهمه ده چې د ثبت پر مهال چارواکو ته ووایئ:

- که چیرې تاسې په بل اروپایي هیواد کې د کورنۍ غړی لرئ
- که تاسې مخکې په بل اروپایي هېواد کې د پناه غوښتنه کړې وي.



که تاسې په اروپا کې کورنۍ لرئ، مهمه ده چې چارواکو ته د خپلې کورنۍ په اړه ټول معلومات ورکړئ چې پرې پوهېږئ. شونې ده چې تاسې له هغوی سره یا په همدې هېواد کې پاتې شئ یا په هغه هېواد کې چې هغوی ژوند کوي.

که تاسې نه پوهیږئ چې ستاسو کورنۍ چېرته ده، یا تاسې له دوی سره اړیکه پرې کړې ده، نو تاسې له خپل استازی څخه د مرستې غوښتنه کولای شئ تر څو تاسې ته خپله کورنۍ ومومي.





# د نوملیکني او سپارلو پرمهال به څه پیښ شي؟



کله چې تاسو خپل غوښتنلیک وسپارئ، نو تاسو ته به يو سند درکړل شي چې ښيي تاسو د پناه غوښتنه کړې ده. دا سند مهم دی، نو په احتياط يې وساتئ. هرکله چې د خپل اوسېدو له ځای څخه وځئ يا له چارواکو سره غونډه لرئ، دا سند له ځان سره يوسئ.





# چارواکي به څرنګه زما په عمر باندې پوه شي؟



که تاسي د عمر د ثابتولو اسناد ونه لرئ او چارواکي ستاسي د عمر په اړه شک ولري، د پناه غوښتني اداري کارکوونکي کولای شي له تاسو وغواړي چي د عمر د ارزوني پروسه بشپړه کړئ. دا یوه داسي پروسه ده چي د عمر په اټکل کې مرسته کوي.

ستاسو د عمر د اټکل لپاره بېلابېلي لارې شته.

د بېلګې په توګه، دا کېدای شي د هغو اسنادو پر بنسټ وي چي تاسو سپارلي وي، یا د چارواکو او بېلابېلو متخصصینو سره د مرکې له مخي وي. که نور شکونه وي، کېدای شي له تاسو وغوښتل شي چي طبي معاینه وکړئ. په دې حالت کې به له تاسو او ستاسو له استازي څخه د رضایت غوښتنه وشي.

که د عمر ارزونه وښيي چي تاسو له 18 کلونو څخه زیات عمر لرئ، نو تاسو به بالغ وګڼل شئ. په دې حالت کې به تاسو نور معلومات ترلاسه کړئ.



که چارواکي داسې انګېرنه ولري چې چا تاسو ته زیان رسولی وي، نو هغوی به تاسو ته وړاندیز وکړي چې ډاکټر ته ورشئ.

د طبي معاینې پایلې به ستاسو د غوښتنلیک د ارزونې پر مهال په پام کې ونیول شي.





**کله چې ستاسو غوښتنلیک وسپارل شي، کېدای شي تاسو یوه یا څو شخصي مصاحبې ولرئ.**

دا معنا لري چې یو چارواکی به له تاسو څخه ستاسې په اړه نورې پوښتنې وکړي هغه هم د دې لپاره چې ولې مو خپل هېواد پرېښود او ولې نه غواړئ بېرته ورشئ. که چارواکي له تاسو وغواړي چې په یوه مصاحبه کې برخه واخلئ، نو تاسو باید ګډون وکړئ او هغوی ته هر هغه څه ووایئ چې په یاد یې لرئ. شخصي مصاحبه به په غږیز ډول ثبت شي.

ستاسو استازی به تاسو ته ووایي چې مصاحبه کله او چېرته ترسره کیږي او د مصاحبې پر مهال به له تاسو ملاتړ وکړي.





## که زه د چارواکو په ژبه و نه پوهېږم، څه به وشي؟



که تاسو د پناه غوښتنې د اداري د کارکوونکو په ژبه نه پوهېږئ، نو هغه څوک چې ستاسو ژبه خبرې کوي، له تاسو سره به مرسته وکړي.

ژباړن ستاسو په قضیه کې پرته له دې چې خبرې وژباړي، بله دنده نه لري. هغه څه چې تاسو د قضیې افسر او ژباړن ته وایئ محرم پاتې کیږي.

دا چې تاسو له کوم یوه سره ډېر راحت یاست، کولای شئ وغواړئ چې ستاسو مصاحبه کوونکی یا ژباړن ښځه وي یا سړی. که موجود وي، نو تاسو ته به هغه کس برابر شي. خپل استازی ته ژر تر ژره او د مصاحبې نه مخکې ووایئ چې غواړئ ښځه درسره مصاحبه وکړي یا نارینه.






# دا ټول به څومره وخت ونیسي؟



له مصاحبې وروسته، هر هغه څه چې تاسې تشرېح کړي دي هغه به وکتل شي.

د سپارلو د ورځې لپاره، ښايي تاسې تر **6 میاشتو** پورې انتظار وباسئ تر څو خپل تصمیم تر لاسه کړئ. ځینې وختونه، دا کار ډېر وخت اخیستلی شي مګر دا باید له **21 میاشتو** څخه ډېر وخت ونه اخلي. انتظار سخت ده، خو صبر وکړئ. چارواکي غواړي تاسو لپاره سمه پرېکړه وکړي.

که تاسو د انتظار زغملو لپاره مرستې ته اړتیا لرئ، تل کولای شئ له خپل استازی څخه مرسته وغواړئ.



**یوه ملګرې مې را ته وویل چې چارواکي به د هغه د پناه غوښتنې غوښتنلیک و نه ګوري. دا ولې؟**





چارواکي لومړی دا ارزوي چې ایا اړتیا شته چې د پناه غوښتنې غوښتنلیک وڅېړي یا نه.

هغوی ښایي ستاسې غوښتنلیک په بشپړه توګه ونه څېړي که تاسې له وړاندې له بل هېواد څخه خوندیتوب ترلاسه کړی وي، یا که ته له داسې هېواد څخه راغلی یې چې هغوی یې خوندي ګڼي.



# زه به کوم تصمیم تر لاسه کړم؟





د پناه غوښتنې چارواکي به پرېکړه وکړي چې ایا تاسو پناه ته اړتیا لرئ یا دا چې ستاسې لپاره نور غواروي هم شته.

تصمیم به تاسې ته تشریح شي.


که تاسو منفي تصمیم ترلاسه کړئ او تاسې یا ستاسې استازی ورسره موافق نه وي، نو کولای شئ دا تصمیم محکمې ته یوسئ او اعتراض پرې وکړئ. دې کار ته اپیل (استناف) ویل کیږي.







## زه څنګه د پناه غوښتنې د پروسې په اړه نور معلومات ترلاسه کولای شم؟





ستاسو د استازی تر څنګ، حقوقي مشاورین هم شته چې کولای شي تاسو ته د پناه غوښتنې پروسه، ستاسو حقونه او مکلفیتونه تشریح کړي.

له خپل استازی څخه وپوښتئ چې څنګه ورسره اړیکه ونیسئ.



که تاسو غواړئ یو وکیل درسره مرسته وکړي، له خپل استازی یا بل چارواکي سره خبرې وکړئ.

**وکيل او ستاسي استازی کولای شي له تاسې سره په دغو برخو کې مرسته وکړي:**





له چاروا‌کو سره د مصاحبې لپاره چمتووالی.

د پناه غوښتنې له چارواکو سره خبرې کول



که تاسې يا ستاسو استازی له پرېکړې سره موافق نه ياست نو د پناه غوښتنې پر غوښتنليک باندې نيول شوی تصميم درک کړئ او اعتراض وکړئ.



تاسو کولای شئ د پناه غوښتنې د پروسې پر مهال هر وخت له UNHCR سره اړیکه ونیسئ.

UNHCR د پناه غوښتونکو او کډوالو ملاتړ او ساتنه کوي.

هغه کسان چې د UNHCR لپاره کار کوي غوښتونکو ته معلومات او مرسته برابروي.
تاسې کولای شئ زیات معلومات دلته ومومئ:
https://help.unhcr.org/





UNHCR
The UN Refugee Agency



## که زه ناروغ یم یا ډېرې وختونه اندېښنه ولرم، نو څنګه مرسته ترلاسه کولای شم؟



خپل استازی، یو چارواکی یا هغه کارکوونکي چې په هغه ځای کې کار کوي چېرې چې تاسو اوسېږئ، خبر کړئ که:



کوم کس تاسې ته زیان رسوي

تاسو ځان غمجن، غوسه ناک، وېرېدلی احساسوئ یا په خوب کولو کې ستونزه لرئ

که تاسو نورې ستونزې لرئ لکه معلولیت، ناروغي یا که امیندواره یاست

په دا شان حالاتو کې به تاسې مرسته تر لاسه کړئ



# ایا زه کوم مکلفیتونه لرم؟

**هو**



**تاسې باید د دې هېواد قوانین او مقررات مراعت کړئ.**

که چېرې د همدې قوانینو او مقرراتو په اړه شک لرئ، له خپل استازی وپوښتئ.

**تاسې باید په هغه ځای کې پاتې شئ چېرې چې تاسې ته ستاسې استازی ویلي دي.**

چارواکي تاسې ته یو ځای ټاکي. د چارواکو له اجازې پرته مه تښتئ او خپل استوګنځای یا المان مه پرېږدئ.




**تاسې باید له چارواکو سره په ګډه کار وکړئ.**

کله چې در څخه وغوښتل شي، نو باید د هغوی پوښتنو ته ځواب ورکړئ او د هغوی لارښوونې تعقیب کړئ.





**ربښتینی اوسئ او کله چې چارواکي له تاسو پوښتنې کوي نو هغوی ته هر څه ووایئ چې تاسو پرې پوهېږئ.**

څه چې تاسو یې وایئ هغه ستاسې د غوښتنلیک لپاره ډیر مهم دي.

تاسو کېدای شي هر هغه څه په یاد ونلرئ نو تاسو ممکن ټولو پوښتنو ته د ځواب ورکولو وړ و نه اوسئ. په دې صورت کې، له ځانه ځوابونه مه ورکوئ بلکې تشریح یې کړئ چې ستاسو په یاد نه دي.

**تاسو باید له چارواکو سره ټولو ټاکل شوو ملاقاتونو ته حاضر شئ.**

دا ملاقاتونه ډېر مهم دي. تاسو باید په ټاکل شوې ورځ او ټاکل شوي وخت کې حاضر شئ.







**تاسې باید سهي د اړیکو جزئیات ورکړئ.**

د دې لپاره چې ډاډ تر لاسه کړئ چې تاسې ټول معلومات او ملاقاتونه تر لاسه کړي دي، نو باید چارواکو ته خپله پته او د تلیفون شمېره ورکړئ استازی به هم دا معلومات ترلاسه کړي او کولای شي تاسو ته د ملاقاتونو یادونه وکړي. که ستاسو د اړیکو معلومات بدل شي، خپل استازی او د پناه غوښتنې چارواکي خبر کړئ. دا مهمه ده چې هغوی وکولای شي له تاسو سره اړیکه ونیسي.

**تاسو باید ټول اسناد چې لرئ یې هغه چارواکو ته وسپارئ.**

هغوی ته خپل ټول اسناد ورکړئ کوم چې ستاسې اړوند دي او هغه دلیلونه ورته وواياست چې ښيي ولې مو خپل هېواد پرېښنی دی. په دې کې د هویت اسناد (پاسپورټ)، د زیږون یا ښوونځي سند، طبي اسناد یا نور اسناد شامل دي.

تاسو باید ټول معلومات او اسناد ژر تر ژره وسپارئ.

که تاسو دا اسناد همدا اوس نه لرئ، کولای شئ وروسته یې وړاندي کړئ. له خپل استازی سره خبرې وکړئ. ستاسو استازی ښايي مرسته وکړي چې دا اسناد ترلاسه کړئ او په وخت یې چارواکو ته وسپارئ.

**که تاسو خپل مکلفیتونه نه شئ پوره کولای، نو خپل استازی او د پناه غوښتنې دفتر کارکوونکي سمدستي خبر کړئ او دلیل یې ورته تشریح کړئ.**







# که چیرې زه خپل مکلفیتونه پوره نه کړم، نو څه پایلې به ولري؟

که تاسو خپل مکلفیتونه پوره نه کړئ، نو کېدای شي ستاسو پر غوښتنلیک منفي اغېزې وکړي.

همدارنګه ښايي تاسو ځینې هغه حقونه او مرستندویه خدمتونه له لاسه ورکړئ چې ما درته تشریح کړي دي.



**ستاسو د پناه غوښتنې پروسه کېدای شي ودرول شي. که تاسو خپل مکلفیتونه پوره نه کړئ، د بېلګې په توګه که:**

- تاسو د چارواکو پوښتنو ته ځواب ورنه کړئ، یا
- تاسو هغوی ته اجازه ورنه کړئ چې ستاسو د ګوتو نښې واخلي، یا
- تاسو له هغه ځایه چې اوسېږئ بې اجازې ووځئ.

په دا شان حالاتو کې، چارواکي به فکر وکړي چې تاسې د خپل غوښتنلیک په اړه جدي نه یاست. تاسو به نور غوښتونکی نه اوسئ او هر ډول ملاتړ به له لاسه ورکړئ.







که تاسو چارواکو ته د ځان يا خپلې کيسې حقيقت ونه وايئ، يا مهم معلومات پټ کړئ، يا په قصد سره خپل اسناد له منځه يوسئ، نو ستاسو غوښتنليک کېداى شي رد شي او تاسو ته پناه در نه کړل شي.

که چارواکي وروسته ومومي چې تاسو د پناه غوښتنې د پروسې پر مهال رښتيا نه دي ويلي، نو له تاسې څخه به پناه واخيستل شي.




ما تاسو ته هغه مهمې خبرې تشريح کړې چې بايد پرې پوه شئ. ستاسو استازى او چارواکي به د پناه غوښتنې د پروسې پر مهال نورې تشريحات درکړي.



**په یاد ولرئ!**

**د پناه غوښتنه وړیا ده**








# محتاط اوسئ

له هغو کسانو څخه ځان وساتئ چې د احسان کولو یا پیسو په بدل کې مرسته کوي! ښایي هغوی بد نیتونه ولري.




ښايي کوم کس تاسې دې ته وهڅوي چې د پرېښودلو هڅه وکړئ. خو په یاد ولرئ چې تاسې نه باید دا ځای پرېږدئ، ځکه کېدای شي دا تاسې ته خطرناک واوسي.





سمدستي خپل استازی یا هغه لویان چې په هغه ځای کې کار کوي چې تاسو په کې اوسېږئ خبر کړئ، که څوک هڅه کوي تاسو دې ته قانع کړي چې داسې څه وکړئ چې تاسو یې نه غواړئ یا داسې ښکاري چې غلط دي.





**که زه وغواړم خپل هېواد ته بېرته ولاړ شم او خپل غوښتنلیک ودروم، نو څه باید وکړم؟**



که تاسو غواړئ خپل هېواد ته بېرته ولاړ شئ او خپل غوښتنلیک ودروئ، خپل استازی او چارواکي خبر کړئ. هغوی کولای شي تاسو سره مرسته وکړي چې په خوندي ډول بېرته ولاړ شئ.



**که تاسو د هغه څه په اړه چې ما تشریح کړل نورې پوښتنې لرئ، خپل استازی، چارواکي یا هغه کارکوونکي وپوښتئ چې په هغه ځای کې کار کوي چې تاسو په کې اوسیږئ.**



دا بروشور یوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې اداري (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې بروشور بیا تولید او بدلون یوازې د EU غړو هیوادونو لپاره د EUAA له خوا اجازه لري. EUAA د EU غړو هیوادونو یا کوم بل مسؤل دریم اړخ له خوا په دې بروشور کې د شامل شوو معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باوری توب لپاره هیڅ ذمه واری یا مسؤلیت نه مني. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب کوم کس په دې بروشور کې د موندل شوو معلوماتو د کارولو ذمه واری لري.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې اداره، 2025